# اوسني ليکوال

## (لومړی ټوک)

د دې يو جلد ښاغلي بېنوا ما ته راکړ او د اصلاح مؤسسې راځخه وغوښتل چي پر دغه کتاب څه وليکم :

تر هر څه دمخه به د کتاب خيني خصايص دلته لنډ لنډ راوړم. ټول کتاب (٥٤٤) مخه په متوسط قطع پر ښه کاغذ چاپ سوی دی، چي د (٦١) پښتنو ليکوالو احوال او اشعار او منثور ليکونه د دوی له فوټوګانو سره لري. د ليکوال رونې د الفباء په ترتيب له (الفه) تر (ر) پوري رسېدلی دی او له دې څخه ښکاري چي ښايي ګرد کتاب به دوه نور ټوکونه هم ولري چي د هغو چاپ او نشر ته په تنده انتظار کېږي.

د کتاب چاپ ښه دی خو ځای ځای يې توري الوتي يا ښه نه دي لګېدلي يا يې مخونه خيرن دي او چاپي غلطۍ هم ډېري لري او کله کله د کلماتو کمپوز داسي هم سوی دی چي لوستل يې مشکل کېږي، خاص بيا هغه خلکو ته چي د پښتو نوآموزان دي. مثلاً په (١٥) مخ کي (٧) سطر کي "زه څيرېدو ـ ته پيدا" او داسي نواقص البته په طبع اړه لري.

په هر صورت د دې کتاب طبع او نشر د ښاغلي بېنوا يو بل ښه خدمت دی خپلي ژبي ته چي بايد هر څوک يې قدر وکاندي او هم د

ده نور توفيق په داسي کارو کي وغواړي، اميد کېږي چي ژر به د کتاب پاته برخي هم چاپ او خپرې سي. چي د پښتو ادب د تاريخ دغه ټوك او مهم اړخ بشپړ سي. ما غوښتل چي پر دې کتاب لږ څه انتقادي نظر وکړم، خو د کتاب د مقدمې په (ج) مخ کي مي د ښاغلي بېنوا دغه څوکرښې ولوستې:

"په ځينو حساسو دماغو کي لا تر اوسه د تنقيد زغم دومره وده نه ده کړې چي ..."

نو دا الفاظ چي مي ولوستل، خدای په رشتيا خوښېږي چي زه هم لږ شانتی غلی سوم چي مبادا دغه حساس دماغونه به هم وترټې او ...

چي دا لار ښاغلي بېنوا ځان ته ترلې وليده او په يوه ډېر استادانه شيرغلت يې دا کار راتلونکو ته پرېښود او ځان يې له خطره وژغوری نو به زه څنګه وکړای سوای چي ببله عادي او کذائي تقريظه دلته کوم کريټکل مضمون وليکم؟

په هغه ډول چي ښايي نه ښاغلی بېنوا او نه زه او نه بل کوم
ليکوال کولای سي چي د ښاغلو اوسنيو ليکوالو سره په آزادانه ډېر
او انتقادي لهجه خبري وکړي يا د دوی په لوړ حضور کي بې ادبي وکاندي.

مګر زه دا خبره خو ضرور د دوی عالي محضر ته وړاندي کوم چي که پخپله ليکوالان نه سي کولای چي پر خپل فن او آرټ يو لږ شانتي انتقاد ومني او په سړه سينه يې واوري نو به دوی څنګه ځان ته د ادبي انتقاد حق ورکوي؟ يو څه چي څوک پر خپل ځان نه سي منلای نو هغه پېټی به څنګه د نورو پر اوږو ور باروي؟

زه ګمان کوم چي د ادب لومړنۍ وظيفه هم دغه ده چي انتقادي روح ورو وزي، او تر هر څه دمخه هم پر خپل ځان انتقاد قبول کاندي او د ادبي کره کتنو او کريټيك لاره پخپله له هر خار و خنډه پاکه کړي.

نو که زه دلته ځيني ادبي نکات په انتقادي رنګ کي وليکم هيله ده ښاغلي اوسني ليکوال مي وبخښي او پر ما به نه په قهرېږي.

زه پخپله یو له دغو لیکوالو څخه یم او په دغه ټوک کي ښاغلي بېنوا برخه هم راکړې ده نو که څه انتقادي تېره اغزي په دې مقاله کي وي هغه به ما ته پخپله هم متوجه وي.

له دې کتابه د پښتو ادب اوسني مبلغ او مقدار او فکري ذخایر او قیمتونه ښکاري. رشتیا خو دا ده چي زموږ د شرقي ژبو ادب او شعر دوني په مکررو مضامینو او مبتذلو افکار ډك سوی دی چي اوس سړی اساساً نوی فکر او کوم ابتکار نه سي پکښي لیدلای، هر څه چي سته هغه د ګذشتګانو د فکر او تعبیر تکرار دی، هغه د دلبر اوږدې زلفي دي چي اوس یې تر نوکانو پوري رسیږي او هغه د باڼو غشي دي چي اوس هم د کابل په هره جاده کي سړی روغ نه سي ځني تېرېدلای.

پښتو ادپ هم کوم روح او ابتکار نه لري خو که څه نه څه اجتماعي افکار په ګډه سوي وي هغه هم د وعظ او نصیحت شکل لري، کوم تخلیقي ادب تر اوسه ایجاد سوی نه دی او نه زموږ ښاغلي لیکوال له هغي لاري څخه چي دا زرکاله په ادب کي جوړه سوې ده یو پل بلي خوا ته اوښتل رواګڼي.

نن ساینس او اجتماعي دودونه په نوي ډول راوتلي دي او د بشریت مسیر یې ور اړولی دی، دغسي هم ادب هغه ابتکاري رنګ موندلی دی چي نه د شرقي ژبو د غزل سرایانو عشق او جنون پکښي ځاییږي او نه د کیسه ګویانو او واعظانو وعظ او نصیحت.

تاسي راسئ زموږ د لیکوالو هنر او آرټ سره واړوئ چي کوم ابتکار او بداعت او تجدد پکښي لیدلای سوای؟ زموږ ښاغلو لیکوالو (او ما هم) کوښښ کړی دی چي خپل لوړ لوړ خدمتونه د ادب او ژبي له پاره ولیکو او د خپلو تألیفاتو یو اوږد لړ لوستونکو ته وړاندي کړو چي دا مي لیکلی دی او ها می لیکلی دی، خو که لږ څه دغو آثارو ته ځیر سو،
کوم ابتداعي شی نه لري او نه یو داسي اثر سته چي هغه دي د ابتکار له پلوه په بین المللي ادب کي د پښتو له خوا د نمونې په ډول پېش کړای سو.

البته دا زموږ د تألیفاتو او کتابونو نومونه (ببلوګرافي) وچ او لانده په یوه ردیف کي سره بردي او خواږه او تراخه په یوه لړ کي سره درووي. مثلاً : له فارسي ادبه د سنایي "سیرالعباد" چي حقیقتاً یو نوی فکر او نوی تعبیر دی د اخوند یوسف ګدا له "تحفه نصائح" سره یو ځای ذکر کوي چي دغه کتاب نه ادبي قیمت لري او نه فکري او نه دیني او نه اجتماعي او نه هیڅ.

مګر ښاغلې لیکواله ! پر ما مه قهرېږه ! قلم له لاسه مه بړده !

(که ګل بدست تو از شاخ تازه تر ماند)

دغه چي تا لیکلي دي هم ډېر غنیمت دي. زموږ ژبه به دغه مراحل ضرور طی کوي خو ستا په سعیه کوم داسي موقف ته ورسیږي چي د مترقي ژبو د ادب سره سیالي وکړای سي. ستا اوسنۍ سعی او زیار د شکر وړ دی اوس هم په دغه لومړي ټوك کي چي ښاغلي بېنوا راټول کړي دي د ښاغلي اجمل خټك د فکر پلوشې او د ښاغلي الفت خوږې نغمې او د ښاغلو رشاد او دوت او رشتین او خادم او نورو وروڼو ځیني نکات او دماغي تخلیقات د قدر وړ دي او څو پښتو دغه دوره تېره نه کړي بل لوړ پړاو ته رسېدلای نه سي.

زما یوه دوست ویل : چي د اوسني لیکوال عنوان ډېر عام او څو سړی د کتاب منځ ونه ګوري نو له دې عنوانه نه سي معلوملای چي دلته فقط د پښتو اوسني لیکوال ذکر سوي دي. نو به ښه دا وي چي د بل جلد پر لومړۍ پاڼې تر اوسني لیکوال لوړ په خفي لیك دا ولیکل سي "پښتو".

بله خبره دا ده چي د ښاغلو لیکوالو د نمونو په انتخاب کي هغه ټوټې غوره سي چي د دوی د پخې لیکني له دورې څخه وي. مثلاً د یوه لیکوال د شلو، دېرشو کالو پخوا تر لیکنو هغه آثار خامخا ښه وي چي اوس یې تازه لیکلي وي ځکه چي د پښتو لیك او شعر په اوسنۍ دوره کي نوی او ماشوم دی. څو کلونه چي پر تېرېږي د

ليکوال له فکره او تجربې سره پخېږي او ښه کېږي.

يو بل محترم نقاد دا لا هم ويل :

چي په دې کتاب کي ښاغلي ليکوال تش د جامع او ټولوونکي وظيفه اداکړې ده، له خپلي خوا يې انتقادي نظر نه دی کړی، له دې کاره خو ښاغلي ليکوال د کتاب په پيل کي معذرت غوښتی دی، مګر د دغه اديبانه عذر غوښتنه به د ده د مسئوليت پېټی سپک کاندي که نه؟ دا خبره د کتاب لوستونکي پخپله له ځانه سره اټکلولای سي. اما زه او زما هغه پياوړی ملګری خو له ده څخه تل داسي انتظار لرو، او د کتاب دغه اوسنی ډول او سبك زموږ ادبي تنده نه سي ماتولای.

په دې کتاب کي د ليکوالو د ژوند وقايع او د دوی د تولد او کورنۍ او تحصيل له پلوه چي کوم معلومات سره راغونډ سوي دي، د پښتو ادب د تاريخ له پاره ډېر مغتنم دي او د آينده څېړونکو په درد به وخوري.

دلته دا نکته هم د ويلو وړ ده چي په دې کتاب کي د پښتو ژبي ټول ليکوال که په افغانستان کي دي که په پښتونستان کي ذکر سوي دي او دا حقيقت ثابتوي چي پښتانه په کلتوري او فرهنګي او ادبي لحاظ بالکل يو دي او هيڅ بېلتون يې نسته. کوم ښاغلي ليکوال چي په مزار او ميمنه يا هرات کي اوسي يا که د اباسين پر غاړه د هغه مست رود غورځنګونه ويني يا د کوړك او پښين په خاموشه وادي کي د شپانه د نل يږغ اروي د دې ټولو د فکر مسير يو دی، ژبه يې يوه ده، هدف يې يو دی، د لوی پښتون عالي مفکوره لري او د سياست ناوړو کړښو او د استعمار دسيسو دوی تر اوسه لا هم نه دي سره بېل کړي.

او که دا بېلتون حقيقي وای نو به ولي "اجمل" او "رسا" په هغه ژبه هغسي فکر کولای کوم چي "جلالي" په غزني کي يا "خادم" په کامه کي، يا "الفت" په کڅ کي کړی دی؟

رشتيا خو دا ده چي زموږ فکر، زموږ هدف، زموږ ښه او بد په لويه پښتونخوا کي داسي سره مشترك دي چي د ډيورنډ پرنګۍ کرښه نه بلکي د هندوکش او سپين غر لوی لوی ګرنګونه او ګاري يې هم نه سي سره بېلولای[1].

---

[1] اوسنی ليکوال، دوهم ټوك، ۱۳۴۱ ل کال، د کابل چاپ، هــ ط مخونه .